دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

# شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

ACKU

## درس قرآن

ای مؤمنانو! په انصاف کلک ودرېږئ او باید د الله لپاره ګواهي ورکړئ که څه هم ستاسي، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، ځکه چې الله له تاسی څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منه مه کوئ که تاسې په ګواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسی له کړنی څخه ښه خبر دی.

(النساء: ۳۴ - ۳۵)

## درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنګه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو ګاونډیانو څخه واورېدل چې نیکي دې وکړه نو تا بېشکه نیکي کړې ده او چې ورڅخه دې واورېدل چې تا بدي کړې ده نو بېشکه بدي دې کړې ده. (ابن ماجه)

شهادت دویم کال، ۹۸ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د کب ۱۸ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الثانی ۳ مه د۲۰۱۱ م د مارچ ۹ مه

حامد کرزی:

## راتلونکې کال به په امنیتي لحاظ ستونزمن وي

کابل، رسنی:
د افغانستان ولسمشر حامد کرزي خبرداری ورکړ چې راروان (۱۳۹۰) کال به، چې نړیوال ځواکونه په تدریجي ډول له افغانستانه وتل پیلوي او د امنیتي چارو مسوولیت افغانانو ته سپاري، سخت وي.
ولسمشر کرزي په عین حال کې په خپل هیواد کې د ولایتي بیارغونې د ډلو د بندولو او د شخصي امنیتي کمپنیو د بندولو غوښتنه وکړه.
په افغانستان کې د بیارغونې د چارو لپاره د نړیوالو د مرستو لویه برخه بهرنیو این جي اوګانو او د ولایتي بیارغونې ټیمونو ته ورکول کېږي خو د افغانستان حکومت وایي چې باید له افغانستان سره کېدونکې مرستې د دغه هیواد د حکومت له لارې مصرف شي.
کرزی چې د مارچ په ۸ مه د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت د کابل په حبیبي لیسې کې یوې غونډې ته ړغېده، خبرداری ورکړ چې راروان کال به د افغانانو لپاره له سختیو ډک وي.

پاتې ٤ مخ

## هدف اصلی سفر گیتس به افغانستان بررسی پایگاه‌های نظامی دائمی است

خبر گزاري فارس:
کارشناسان نظامی افغان: هدف از سفر غیر منتظره وزیر دفاع امریکا به افغانستان را بحث و گفت‌وگو درباره پایگاه‌هاي نظامي دائمي، پیمان استراتیژیک و انتقال قدرت به نیروهاي امنتیي افغان بیان کرد.
کارشناسان افغان میگویند، با بیان این که کشتار غیرنظامیان افغان براي امریکا آن قدر حائز اهمیت نیست که این موضوع به تنهایي رابرت گیتس را به کابل کشانده باشد، بررسي پیمان استراتژیک و پایگاه‌هاي نظامي دائمي، واگذاري تأمین امنیت به نیروهاي افغان و در ضمن کشتار غیرنظامیان را اهداف سفر گیتس به کابل دانست.
کارشناسان افغان با اشاره به سفر چند روز پیش "عبدالرحیم وردک "وزیر دفاع

بقیه در صفحه ۴

## دپاکستان بریدونو، په سلګونه کورنۍ بې ځایه کړې دي

ننګرهار، رسنی:
دننګرهار ولایت دګوشتی ولسوالی کابو ۲ زره کورنی، دپاکستاني ځواکونو له پر له پسې خمکنیو او هوائي بریدونو له امله، دخپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.
دګوشتی ولسوال حاجی سید رحمان رسنیو ته ویلي: له ۳ ورځو راهیسې دیادی ولسوالی پر بیلا بیلو سیمو دتوپ څه د پاسه ۳۰ مرمی لګیدلی چې له امله یې، یو پولیس هم ټپی شوي دي.
نوموړي زیاته کړي: پاکستان دتیر په څیرغواړی ترڅو؛ د افغانستان دسرحدي سیمو ځینی برخې لاندې کړي. خو په سیمه کې دسرحدي پولیسو دڅلورم کندک قوماندان سمونوال عبدالبصیر ویلي: دوی هر ډول متقابل ځواب ته چمتو او فرمان ته په تمه دي.
په همدې حال کې دګوشتی یو شمیر بې ځایه شوي کسان وایي: افغان دولت

پاتې ٤ مخ

## په افغانستان کې دامریکا ددایمي اډو پر ضد په کابل کې لاریون ترسره شو

لوی افغانستان:
سلګونه کسانو په کابل کې د ممکنه امریکایي پوځي دایمي اډو د جوړولو او د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي تلفاتو پر ضد لاریون وکړ.
لاریون کوونکو په دې اړه په لیکلي بڼه شعارونه او د یو شمېر هغو ملکي کسانو عسکونه هم له ځانه سره لېږدول، چې په خبره یې په کونړ کې د ناټو په بمباریو کې وژل شوي دي.
لاریون کوونکو په افغانستان کې امریکا ته د پوځي دایمي اډو له ورکولو سره مخالفت څرګنداوه او دغه رازد ناټو په عملیاتو او بمباریو کې د ولسي تلفاتو په تړاو یې هم له قهره ډک شعارونه ورکول.
لاریون کوونکي چې شمېره یې سلګونو تنو ته

پاتې ٤ مخ

## تعلیق محاکمه های نظامی برای زندانیان گوانتانامو به پایان میرسد

رادیوی آزادی:
باراک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا تعلیق دو ساله بر محاکمه های جدید نظامی برای زندانیان گوانتانامو را به پایان می رساند.
اوباما هم چنین یک پروسهء جدید را برای حفظ کسانی اعلام کرد که از سوی محکمه متهم و یا محکوم نشده اند، اما رهایی شان خطرناک به نظر می رسد.
وی گفته است که این اقدامات توانایی شان را برای به عدالت کشانیدن تروریستان تقویت می بخشد.
اوباما تعهد کرده که زندان گوانتانامو در کیوبا را می بندد. به گفته او، گوانتانامو به مثابهء ابزار جلب و جذب به القاعده بوده است.

## گوشهٔ از زندگی دعوتگر بزرگ نجم الدین اربکان

صفحه دوم

## له سولې نه انکار د الله (ج) له حکم نه انکار دی

دریم مخ

رابرت گیتس در کابل:

## کارشناسان امریکایی برای بررسی پیمان استراتیژیک وارد افغانستان می‌شوند

خبر گزاري فارس:
وزیر دفاع امریکا که روز گذشته وارد کابل شد، در کنفرانسي خبری با حامد کرزی از اعزام گروهی از کارشناسان امریکایي براي تهیه پیمان استراتژیک به افغانستان خبر داد.
به گزارش خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، گیتس مانند سایر فرماندهان و مقامات امریکایي در مورد کشتار غیرنظامیان افغان توسط نظامیان امریکایي، به اظهار تأسف بسنده کرد اما اعتراف کرد که این گونه

بقیه در صفحه ۴

## ګېټس وایي له افغانانو د ملکي تلفاتو په خاطر بخښنه غواړي



کابل، رسنی:
د امریکا دفاع وزیر رابرت ګېټس د نړیوالو ځواکونو په هوایي حمله کې د نهو افغان ماشومانو وژنه یو زیان وباله.
د متحدو ایالتونو دفاع وزیر پرون په نااعلان شوي سفر کابل ته ورسېد او ټاکل شوې ده چې د افغانستان ختیځ او جنوب ته هم لاړ شي.
د کونړ په غازي اباد کې د تېرې اوونی د سې شنبې په ورځ د ناټو ځواکونو له لوري د نهو افغان ماشومانو د وژل کېدو پېښې د ده پر سفر سیوری غوړولی دی.
ګېټس پرون په کابل کې له ولسمشر کرزي سره په یوه ګډه خبري غونډه کې د دغو نهو ماشومانو پر وژل کېدو د امریکا له خوا معذرت وغوښت.
"د دوی مړینه نه یوازې د هغوی د کورنیو

پاتې ٤ مخ

د امریکې د کانګرس یو څېړنیز رپوټ:

## د امریکایي قراردادیانو شمېر په افغانستان کې ریکارډ جوړ کړ



لر او بر:
د امریکې د کانګرس یو څېړنیز رپوټ وایي، چې د ۲۰۱۰ کال په پای کې د امریکایي امنیتي قراردادیانو شمېر ۱۸۹۱۹ کسانو ته ورسېد، چې دا په یوه بهرني ملک کې د امریکې په تاریخ کې تر ټولو لوړ شمېر دی. رپوټ وایي، چې د ۲۰۱۰ کال په پای کې د دغو امنیتي قراردادیانو شمېر د ۲۰۰۹ کال په پرتله درې خلې زیات شوی دی. امریکایي ځواکونه له دغو کسانو څخه د خپلو اکمالاتي کاروانونو د ساتنې لپاره کار اخلي، خو همدا کسان بیا د افغانستان د امنیت لپاره په یوه ګواښ بدل شوي. ولسمشر کرزی د دغو قراردادي ځواکونو د منځه وړلو لپاره هڅې پیل کړې، خو تر اوسه د ډېرو فشارونو سره مخ شوی او له همدې امله تراوسه بریالی شوی نه دی.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# رنډې بمبارۍ او مظلوم ولس

له کله نه چې د امریکا په مشرۍ ناټو ځواکونه افغانستان ته راغلي دي له همغې ورځې زرګونه بې ګناه ولسي وګړي دهغوی په رنډو بمباریو او پر کلیو د پیاده پوځونو د یرغل پر مهال شهیدان شویدي.

که دا وویل شي چې د تېرو لسو کلو راهیسې د ناټو په بمباریو کې په سلو کې پنځه نوي عام ولسي وګړي وژل شوي دي نو له واقعیت نه به لیرې نه وي.

که د امریکا او ناټو پوځونو د راتلو له نیټې تر نن ورځپاڼې وګورو نو دا واقعیت به ښه څرګند شي چې امریکا او ناټو د زرګونو بې ګناه ولسي وګړو له وژلو پرته بله توره نه ده کړې.

د عام ولس پر وژنه پخپله امریکا او ناټو ځواکونو هم څو ځلې اعتراف کړی او بخښنه یې هم غوښتې ده خو دهغوی ددغې وژنې لړۍ ددې پر ځای چې پای ته ورسېږي او یا پکې کمی راشي لاپسې تیزه او زیاته شویده، د مثال په ډول یوازې د حوت په میاشت کې په خوست، هلمند او کنر ولایتونو کې له ۳۶۰ و نه زیاتو بې ګناه عام ولسي وګړو د امریکا او ناټو ځواکونو په بمباریو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی.

که څه هم په لومړیو کې بهرنیو ځواکونو د غازي آباد ولسوالی او ننګلام سیمه کې د لسګونو عامو ولسي وګړو د وژل کېدو خبر رداوو خو وروسته یې ومنله او د بخښنې په غوښتو یې ځانو ته برائت ورکړ.

بهرنیو پوځیانو د خپلو ګناهونو څخه د پاکېدو لپاره د بخښنې یو ښه بهانه ترلاسه کړې ده، هغوی چې په افغانستان کې څومره بې ګناه وګړي ووژني جبران یې د عفوې په ویلو سره کوي. نه ترینه څوک پوښتنه کوي او نه یې هم څوک رټي چې ولې بیا بیا د انسان وژنې لوی جرمونه ترسره کوئ؟ نه د افغانستان دولت د هغوی د محاکمې توان لري، او نه هم امریکا او ناټو غړي هېوادو چارواکی خپل پوځونه د محاکمې میدان ته راکاږي.

د بهرنیو ځواکونو لپاره افغانستان د ښکار هغه زړه پورې ځنګل ګرځېدلی چې چېرته، او ځنګه یې زړه وغواړي له ویرې پرته د خپلې خوښی ښکار کوي، خو پوښتنه داده چې د افغانستان بې ګناه وګړي به تر څو ددغو بې بندو بارو ښکاریانو د ښکار مشق وي؟ تر څو به په چوپه خوله دا هر څه زغمي؟ افغانان هم آخر انسانان دي څه کاڼي نه دي چې درد او غم ونه لري، هر څه چې وربانديې وشي آه و فریاد یې ونه خېژي؟

امریکایي او ناټو ځواکونه دې دا ونه ګڼي چې افغانان دهغوی لپاره د قرباني ګډووري دي او چې هر څه وربانديې کوي مخه یې خلاصه ده، د افغانانو ددغه لوی صبر مطلب دې دا ونه ګڼل شي چې هغوی د مقاومت توان نلري او د چا په خلاف جګړه نشي کولې، په خدای قسم چې داسې نه ده، افغانان په بشري تاریخ کې له هر چا زیات جنګیالي او سخت جانه دي، د جګړو په تاریخ کې چې د خپلې دفاع په خاطر د قهرماني کومې کارنامې د افغانو په برخه دي د بل هیڅ قوم په برخه نشته. د نړۍ د سترو مغرور ځواکونو نشه همدلته ماته شوېده، همدلته په ګونډو شوي او همدلته سپک شوي دي. بهرني ځواکونه دې په دې غور وکړي چې که چېرته هغوی د افغانانو یو څو فیصدي خلکو ته چې دهغوی په خلاف د جنګ ډګر ته وتلي دي په لسو کلونو کې په ماته ورکولو نه دي برلاسی شوي نو که د افغانستان اکثریت وګړي وسلې ته لاس کړي نو هغه صورت کې به له څومره مشکلاتو سره، مخامخ شي؟ که چېرته له څو زرو مخالفو وسله والو جګړه نه شي ګټلې او اعتراف کوي چې د جګړې له لارې بری ترلاسه کول ناشونې دی نو بیا به له ټول ملت سره دجګړې انجام څه وي؟!

بهرني ځواکونه دې د عامو ولسي وګړو په وژلو د شرمندګي او په مقابل کې د افغانستان د قهرمان ولس زغم ته سلام وکړي؛ د خپلې ماتې غچ دې د بې ګناه ولسي وګړو او د ښوونځي ماشومانو او ښځو په وژلو نه اخلي. د جنګ ډګر معلوم دی دهغوی په خلاف جنګیدونکي ځوانان ښکاره دي که هغوی ته په مخامخ او ګوریلایي جنګ کې ماته نه شي ورکولې نو د بې دفاع ولسي وګړو په وژلو به څه ترلاسه کړي؟!

ښه به دا وي چې بهرني ځواکونه د خپلې ناکامی د پټولو او د خپلې غصې د یخولو لپاره بین المللي جنګي اصولو څخه سرغړونه ونکړي او د بې ګناه ولسي وګړو له وژلو ډډه وکړي ځکه چې په داسې کړنو نه جنګ ګټلی شي او نه هم ښه شهرت ترلاسه کولې شي، ددې پر ځای چې دنیا ورته د قهرماني لقب ورکړي بزدل، انتقام جو او وحشي درنده په نامه یې یادوي. فوځ ته د خپلې بهادرۍ او فوځي هنر د ښکاره کولو لپاره د جګړې د میدان ګټل ضروري دي، نه دا چې خالي لاس بې دفاع عام ولسي وګړي ووژني او د خپلې ماتې انتقام له هغوی نه واخلي.

تاریخ ګواه دی چې کله هم په مخامخ جګړه کې کوم پوځ له ماتې سره مخامخ شوې هغوی بیا همداسې ذلیلو او بې ننګه کارو ته پېنځې بډ وهلي دي، په افغانستان کې چې بهرنیو ځواکونو د بې ګناه عام ولسي وګړو په وژلو لاس پورې کړې او په پرله پسې ډول د افغانستان په ګڼو ولایتونو کې د ښوونځیو د ماشومانو په شمول په خپلو کورونو کې ناست ناخبره بې ګناه ولسي وګړي وژني دا په دې دلالت کوي چې بهرني ځواکونه د جګړې په ډګر کې له بشپړې ماتې سره مخامخ او خپلو مخالفینو ته ماتې ورکولو څخه کاملاً مایوسه شوي دي نو ځکه خپله غصه د بې ګناه وګړو په وژلو یخوي.

د پوځي ماهرینو تجربه او تحلیل دا وایي چې کله هم پوځ له جنګي اصولو څخه انحراف وکړي او د بې ګناه ولسي وګړو په وژلو لاس پورې کړي نو ددې لازمي معنی داده چې پوځ خپل عقل، استقامت او اعصاب کاملاً له لاسه ورکړی دی هغوی دداسې اعمالو په ترسره کولو سره خپلو چارواکو ته دا پیغام

پاتې ۳ مخ

# گوشهٔ از زندگی دعوتگر بزرگ نجم الدین اربکان

تورن غلام سخی "آوری"

انجنیر نجم الدین اربکان دعوتگر بزرگ مسلمان ترک ۸۵ سال قبل از امروز پا به عرصهٔ وجود گذاشت. آوان کودکی نجم الدین مصادف باآخرین دوران امپراطوری خلافت عثمانی بود که از غرب افریقا تا آسیایی مرکزی و مرزهای افغانستان از جزیره العرب تا شمال ایتالیا در اروپا حتی داخل کشور یوگوسلاوی و کشور مسلمان بوسنیا امتداد داشت. که در این امپراطوری کبیر طبقات مختلف از مسلمان مسیحی، بودایی، یهودی و سائر ادیان در پرتو احکام دین با رفاه و عدالت زندگی میکردند. کنیز و بردهٔ که در نتیجهٔ فتوحات امپراطوری بدست مسلمانان می افتاد، در تحت لوای خلافت اسلامی از حقوق مساوی و عدالت اجتماعی برخوردار می گردیدند حتی اطفال آنها با اطفال مسلمانان تا زمان جوانی در مکاتب و مدارس دینی و علوم معاصر را فرا میگرفتند که بعد از فراغت از قید بردگی و غلامی آزاد و داخل دوائر دولتی اجرای وظیفه مینمودند و از حقوق مدنی و سیاسی خویش بطور مساوی برخوردار میشدند مگر زمانیکه یهودیان با حقد و کینه تاریخی که با مسلمانان داشتند و نمیخواستند ابهت و جلال خلافت اسلامی را تماشا کنند. و از توسعه فرهنگی و سیاسی خلافت رنج میبردند. به بهانه تشکیل دولت یهودی و اجرائی مقدسات دینی شان در ارض موعود (بیت المقدس) در صدد اشغال سرزمین فلسطین برآمدند، با براه اندازی دسایس و توطئه ها که عادت تاریخی آنهاست تصمیم گرفتند تا وحدت امت اسلامی را در سرزمین های تحت سیطرهٔ خلافت از هم بپاشند. از جملهٔ رهبران یهود شخص بنام هرتزل در تمام گوشه و کنار جهان بخاطر تحکیم وحدت قوم یهود مسافرت های طولانی را انجام داده و حمایت قاطع کشورهای استعماری را در مورد تأسیس دولت یهودی در فلسطین بدست آورد.

از اینکه مانع بزرگ این هدف سلطان عبدالحمید خلیفهٔ بزرگ امپراطوری عثمانی بود، با بهانه های مختلف میخواست او را اغفال نمایند، ولی سلطان با درایت و فهمیکه از گذشته های قوم یهود در برابر پیامبر و سایر کشورهای اسلامی داشت به هیچ وجهه حاضر نشد که یک وجب از قلمرو خلافت را به یهودیان مکار تسلیم نماید. هرتزل نماینده یهودیان برای سلطان بخاطر ادای قروض دولت عثمانی پیشنهاد چندین صد میلیون پوند استرلینگ نمود تا قسمتی از خاک فلسطین را بدست آورد. که از طرف سلطان با شدت و با لهجهٔ تند روبرو گردید. سلطان در جواب گفت: که من حاضر نیستم که یک وجب خاک را که به قیمت خون شهدای اسلام بدست آمده در بدل پول بفروشم، من خاک فروش نیستم. رهبران یهود ناامیدی و یاس موفق نشدند رضایت سلطان را بدست بیاورند. اینبار تصمیم گرفتند تا از راه های شیطانی دیگری نقشه بزرگ استعماری خویش را که همانا سقوط خلافت اسلامی بود عملی سازند. که در این راه از تمام دسایس و توطئه ها با استفاده از شعار کهنه (تفرقه بیندازد حکومت کن) و استخدام جواسیس و غلامان حلقه بگوش در لباس و جامعه بظاهر اسلام و در واقع دشمنی با دین ضربات کوبنده را بر پیکر خلافت وارد آوردند و نقشه های شوم و کاملاً رقیق و حساب شده خویش را آرام، آرام پیاده کردند، شاهان فاسد و بیمار کشورهای اسلامی که در کثرت عشرت و خودکامگی مدهوش بودند و دیگر مهام و اداره سرزمین های خویش از دست داده همه در خواب غفلت فرو رفته بودند ولی دشمن مکار در کمین بود. دشمن مکار و بیدار با پخش اخبار و اکازیب و با استفاده از ابزار کهنه قوم پرستی و نژاد پرستی و برتری عرب نسبت به ترک و با استفاده از کلمه مقدس جهاد کشورهای اسلامی را علیه همدیگر استعمال نمودند. و زمینه های انقراض و فروپاشی خلافت را مساعد ساختند. زمانیکه سلطان عبدالحمید چشم از جهان پوشید دسایس پشت پرده دشمنان بارزتر و ظاهرتر گردید و هرچه بیشتر از پیش میدان توطئه ها و نقشه بندی ها مساعدتر گردید. تا آنکه سیکولر معروف ترکیه مصطفی کمال که بصفت صاحب منصب نظامی و در داخل ارتش ترکیه اجرائی وظیفه مینمود، تحت نام اتحاد و ترقی و یا الهام از انقلابیکه کمونست ها در روسیه براه انداخته بودند. بزرگترین ضربه هولناک را بر پیکر خلافت وارد آورد. و با شعار نیشنلیزم ترک تمام اراضی مفتوحه را برای دشمنان اسلام واگذار شد و دامن امپراطوری خلافت را آنقدر فشرد که تنها از جمله کشورهای تحت سیطره خلافت فقط کردستان باقی ماند که تا امروز قضیهٔ تاریخی کردها لاینتحل باقیمانده است. مصطفی کمال با قساوت و بیرحمی که بر ضد دین داشت با کمال شوق و ارادت تمام اساسات دینی و مذهبی را از سرزمین پهناور ترکیه نابود ساخت.

انقره را مرکز خویش قرار داد، به بهانه مبارزه علیه انگلیسها تمام علما روحانیون و اقشار متدین ترک را محکوم به مرگ نمود.

ساحه قلمرو خلافت هر روز تنگ تر میشد. انگلیسها، فرانسویها سرزمین های اسلامی را یکی پی دیگری اشغال می نمودند. کشور بزرگ مصر به پارچه های مختلف تجزیه گردید. اکثر اراضی فلسطین از طرف انقلابیون ترکیه که در رأس آنها مصطفی کمال قرار داشت برای یهودیان بیشرمانه بفروش میرسید. مگر دیگر ناوقت بود که خلافت بیمار در چنین زمان تیغ خون و آتش که شعله های سیکولریزم فضای ترکیه را فرا گرفته بود، مردی به صحنهٔ پیکار علیه بیداد مصطفی کمال پا به میدان مبارزه و جهاد گذاشت که چون کوه استوار و چون کشتی آرام در برابر تلاطم اقیانوس مقاومت مینمود. هر گاهیکه خلافت از دست رفتهٔ نیاکان او به پیش چشمانش میدرخشید دینای تفکر اندیشه وجدان او را تکان میداد احساس وطنی و دینی اش را قویتر میساخت. اربکان در محیط و ماحول خویش جز حرکات ضد دینی و مذهبی و خرافات معاصر و ضد تمدن بشری چیزی ندیده بود با درک عمیق که از اسلام، دین، مسلمانان و اعتقاد راسخیکه به خدا و رسولش داشت و باور کامل که به پیروزی حق بر باطل و زوال حکومت های غیر اسلامی و برداشت که از کتاب پیامبرش داشت آرام نگرفت با دست خالی و با ارادهٔ متین نابرابر در برابر کسانی قرار گرفت که تا بدندان مسلح و از عقیدهٔ واهی ضد دینی طرفداری میکردند، ارتش مسلح که با تصفیه افراد مسلمان به وجود آمده بود مکاتب بی دینی، پوهنتون های لائیک و غیر اسلامی، کشورهای اروپایی را که مخالف دین بود ایجاد نمودند، که از جمله عوامل بزرگی بود که سد راه اربکان قرار داشت، اربکان باوجود ناملایمت های اجتماعی، سیاسی و اقتصادی با تمام نابسامانی های موجود دست و پاچه نرم نمود و در صدد تأسیس حزبی شد که بوسیلهٔ آن بتواند توده های مسلمان را در محور عقیده و ایمان گرد آورد و آرمان های خلافت اسلامی را پوره سازد و بر هیولای (جدایی دین از سیاست) که تفکر سیاه مصطفی کمال بود پایان ببخشد.

اولین حزب خویش را به نام حزب سلامت پایه گذاری نمود و آهسته آهسته محتاطانه معتدلانه و زیرکانه اهداف خویش را طوری دنبال مینمود که اوضاع و شرایط موجود ترکیه را زیر نظر داشت نمیخواست در تقابل شدید با حکومت بخصوص اندیشمندان نظریات (جدایی دین از سیاست) قرار بگیرد. اربکان با ایمان و قوت باطنی که داشت توانست هر چه استوار با حملات فرهنگی دشمن دست و پنجه نرم کند. موصوف با الهام که از برادران مسلمان خویش در سطح جهانی داشت همواره احساس همدردی و هم گرایی خود را با هر مسلمان و در هر کجایی از سرزمین های اسلامی نشان میداد، و یکتن از مدعیان برحق جهاد مردم افغانستان بود که در راستای تحقق آرمان جهاد از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزید. اربکان با انقلاب آرام دینی که تغییرات بزرگ را در ترکیه ایجاد نمود و در تاریخ معاصر کشورهای عرب و مسلمان بی نظیر میباشد. اربکان با همرزمان خویش بعد از انحلال حزب سعادت، حزب رفاه، حزب عدالت و در اخیر حزب سعادت را تأسیس نمود که طیب اردگان صدراعظم و عبدالله گل رئیس جمهور فعلی ترکیه از همکاران اربکان میباشند. از اثر مجاهدت و قیادت سالم نجم الدین است که ترکیه امروز از آزادی های دینی و استقلال کامل سیاسی برخوردار شده است.

اربکان به اثر مبارزات سیاسی و دینی که داشت چندین بار راهی زندان گردید باوجود آن عنان مقاومت علیه سیکولریزم را از دست نداد. بالاخره نجم الدین اربکان از اثر مریضی که مدتها رنج میکشید داعی اجل را لبیک گفته و به دیار مقصود شتافت. روح شان شاد باد و یادشان در قلب ما جاویدانه باد و رهروان راه شان پیروز و سربلند باد.

(انا لله وانا الیه راجعون)

# له سولې نه انکار د الله (ج) له حکم نه انکار دی

محمد خلیل

د اسلام په سپېڅلي دین کې جنګ ته حرام ویل شوي دی. د کائناتو خالق او مالک مسلمانان لدینه سخت منع کړی دي چې پخپلو کې سره وجنګیږي او د یو بل وینې توی کړي. خو که بیا هم چېرته له مؤمنانو نه څوک په جګړه بوخت شي او د یو بل د وژلو لپاره ډګر ته راووځي نو ددې د مخنیوی لپاره الله تعالی پخپل کلام قرآن کریم کې مؤمنانو ته دهغوی ترمنځ د سولې کولو صریح حکم ورکړی دی.

همدغه راز الله جل جلاله د النساء په سوره کې فرمایي:

"دهغوی په ډېرو مشورو کې هېڅ خیر نشته، مګر هغه څوک چې د صدقې، یا د نیکې خبرې او یا هم د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کولو امر وکړي."

په ابو داؤد کې حدیث دی چې محمد صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو اصحابو کرامو ته وفرمایل: آیا زه تاسو ته داسې کارونه ښایم چې دهغه ثواب له لمونځ، روژه او خیرات ورکولو نه هم زیات دی؟ اصحابو کرامو وویل ضرور یې وښایه، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه د مسلمانانو ترمنځ سوله او اتفاق راوستل دي، خبردار! د مسلمانانو ترمنځ جنګ جګړه او بې اتفاقي ددین او ایمان جرړې وباسي.

هغه خلک چې د الله تعالی پر ذات او دهغه پر رسول محمد صلی الله علیه وسلم ایمان لري نو هغوی کله هم د سولې د خبرو له پروسې سره د مخالفت جرئت نشي کولی، بلکې د الله تعالی او دهغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم د اوامرو په وړاندې د سر په ښکته کولو سره د روغې جوړې لپاره خپل ټول څواک او استعداد په کار اچوي، که دا هم نشي کولی نو لږ تر لږه د سولې په خلاف محاذ نه پرانیزي او خپله ژبه، قلم او مال د هغه په خلاف نه کاروي.

د افغانستان مؤمن او مسلمان ولس دې هغه عناصر وپیژني چې هر وخت د غلطو دلایلو په وړاندې کولو سره د سولې مخه نیسي،

او دا د افغانستان په تاوان بولي، په داسې حال کې چې لوی الله او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم سولې ته خیر ویلي دي. سوله یواځینی علاج دی چې د جنګ جګړو د موذي مرض مخه نیسي، د ناامنې، ویرې، وینې تویونې او هر ډول بربادۍ په وړاندې مضبوط فولادي دیوال ودروي.

هغه عناصر چې د سولې په خلاف کمپاین کوي هغوی دې پخپل دین او ایمان له نوی سره نظر واچوي چې آیا د دومره لوی جرم په ارتکاب بیا هم د هغوی دین او ایمان سالم پاتې کیدی شي او که نه؟ آیا هغوی دداسې عمل په ترسره کولو سره د افغانستان د مسلمان ولس پر پرهرونو د مرهم پټی لګوي او که مالګه ورباندې دوړوي؟ آیا جګړه او بې اتفاقي د مسلمانانو په ګټه ده او که د سولې او اتفاق ژوند؟ آیا تېرو جګړو موږ ته تاوان رسولی دی او که ګټه؟!

ښکاره خبره ده چې د افغانانو استقلال، دین، ایمان او ژوند ته څومره لوی نقصان خپلمنځي جګړو دښمنیو او بې اتفاقیو رسولې بل څه ندی رسولې، د الله جل جلاله او دهغه رسول محمد صلی

الله علیه وسلم هغه لارښوونې رښتینې ثابت شوي چې فرمایلی دي:

د مسلمانانو ترمنځ جنګ جګړه او بې اتفاقي د مسلمانانو قوت ختموي او ددین جرړې وباسي.

که جنګ جګړه ښه څیز وای نو الله جل جلاله به ورته حرام نه و ویلی، مؤمنانو ته به دا امر نه و ورکړی چې کله د مؤمنانو ترمنځ جګړه راپیښه شي نو دهغوی ترمنځ سوله وکړئ.

د الله تعالی له دې ارشاد نه ثابت شو چې سوله د مسلمانانو او د ټول انسانیت بنسټیز او مهم ضرورت دی، ځکه خو هغه جل جلاله ټول انسانیت ته امر کوي چې پر زمکه فساد مه کوئ.

پر زمکه فساد ته لمنه وهل او سولې په وړاندې خنډونه اچول د الله تعالی د دښمنانو کار دی، هغه کسان چې په مطلق ډول د خپل استکبار او حاکمیت د قائمولو په خاطر د سولې په خلاف صف جوړوي هغوی په حقیقت کې د شیطان ملګري دي.

د افغانستان مسلمان ولس د سولې له مخالفینو نه پوښتنه کوي چې دوی تراوسه پورې د جنګ له لارې خپل ولس ته لدې پرته چې هر ورځ د لسګونو افغانانو وینې توېږي، کور او کلی یې ورانیږي، عزت او آبرو یې پښو لاندې کېږي څه ښېګڼه رسولې ده؟ آیا د دومره لویو تاوانونو باوجود چې افغانان ورسره لاس او ګریوان دي او مادي او معنوي مستقبل یې تر کلک ګواښ لاندې دی د جګړو پر دوام اصرار کول دا معنی نه ورکوي چې دوی د افغانستان له خاورې، استقلال، عقیده، آرامې، یووالې او استحکام سره هېڅ مینه نه لري؟ دوی صرف هغه ګټې پالې چې د افغانانو په جنګولو او دهغوی د وینو په خرڅولو ترلاسه کوي. تراوسه چې څومره جنګونه د رنګینو او غولوونکو شعارونو لاندې شوي دي تاوان یې ولس ته او ګټه یې یوازې دغو څو قوم فروشو مشرانو ته رسېدلې ده. ولس بېچاره د یو وخت ډوډۍ لپاره حیران دی خو ددغو جنابانو په داخل او خارج کې بلند منزلونه، پلازې او مارکیټونه ولاړ دي، په داخل او خارج کې بانکونه له ډالرو ډک کړی دي، د بهرنیو هېوادو پاسپورټونه او ویزې له وړاندینه په جیبونو کې پراته دي، هغه ویره او غم ددوی پر اولادو مخ تیریږي چې د نورو افغانانو پر اولادو تیریږیش، ماشومان او کورنی یې په دوبی او اروپا کې اوسېږي نه وربانډې بمباري کېږي او نه هم کورونه یې تلاشي کېږي. د هر یو پنځه واړه ګوتې به غوړو کې دي او د افغانانو په وینو مزې او چرچې کوي.

افغانانو ته پکار دي چې ددغو خود غرضو کسانو غولوونکو شعارونه رد کړي او په افغانستان کې د سولې د قیام او ټولو افغانانو د یووالي او روغې لپاره ملا وتړي تر څو وکړی شو د اتفاق او یووالي له لارې د ټولو وړپېښو چلنجونو مقابله وکړو او د یو سر لوړي ملت په څېر د آرام ژوند خاوندان شو.

## د سرمقالې پاتې برخه

ورکول غواړي چې نور له جګړې نه ستړي شوي دي او نه غواړي چې د جنګ په ډګر کې پاتې شي. که څه هم پوځي جنرالانو دا راز له څو کاله وړاندې نه درک کړی او څو څو وار یې په څرګندو ټکو کې ویلي دي چې په افغانستان کې د جګړې له لارې بری نشي ترلاسه کېدلی او جګړه د حل لاره نه ده خو بیا هم په دې کوښښ کې دي چې څه نا څه نسبي بری ترلاسه او له افغانستانه د ماتې خوړلې پوځ په صفت نه بلکې

بریالی پوځ په صفت لاړ شي، خو دا مقصد د بې ګناه ولسي وګړو په وژلو نه بلکې د یو ثابت او سالم دریځ پخپلولو سره ترلاسه کېدای شي، هغه دا چې له خپلو مخالفینو سره مخامخې خبرې پیل کړي، د یو بل دریځ، غوښتنې او اندېښنې په غور او فکر سره واوري، هغه محوري نقطه دی را پیدا کړي چې د جګړ د خاتمې او دواړو لوریو ترمنځ د بې باورې او اندېښنو د لیرې کولو فضا رامنځ ته کوي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان جګړه ګټونکې نه لري او نه هم ددې امکان شته چې په افغانستان کې روان مقاومت ختم کړی شي، بلکې په یقین سره ویلې شو چې د جګړې دوام به له نورو تباهیو او بربادیو پرته بل هیڅ راز ګټه ونلري چې نه یې د افغانستان جنګ ځپلي ولس زغملی شي او نه امریکا او ناټو غړو هېوادو ولسونه.

ښه به دا وي چې د جګړې د تداوم پر ځای په سړه سینه د روغې جوړې په خبرو غور وکړې شي او خپل ټول قابلیت او انرژي د سولې د راوستو لپاره په کار واچول شي.

# د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(اوومه برخه)

س ۱۱۰: چا د لومړي ځل لپاره اسطرلاب نصب کړی؟

ځ: ابو اسحاق فرازي د عباسي خلیفه (منصور) نجومی لومړی سړی و چې د اسطرلاب د نصبولو لپاره یې مورچه جوړه کړه.

س ۱۱۱: څوک په مطلق شکل د اسطرلاب جوړونکی دی؟

ځ: د بشریت په تاریخ کې ابو اسحاق لومړی سړی دی چې اسطرلاب یې جوړ کړی، او دا هم ویل شوي چې هیا خوشاو یا ابو لونیوس رومیانو جوړ کړی دی.

س ۱۱۲: چا د لومړي ځل لپاره په اسطرلاب کې د کار کولو په هکله کتاب و لیکه؟

ځ: عبدالرزاق نوفل په خپل کتاب (مسلمانان او نوی علم) په اول قرن کې وایي: چې ابو اسحاق ابراهیم د حبیب د سلیمان فرازي لمسي لومړی په اسطرلاب کې د کار کولو په هکله کتاب و لیکه.

س ۱۱۳: د عمر بن عبد العزیز لومړی وصیت والیانو ته څه شی و؟

ځ: په عدل، اصلاح او احسان کې د هغه چا د ظلم او تیري په اندازه اوسئ چې ستاسې نه مخکې وو.

س ۱۱۴: خلکو ته د عمر بن عبد العزیز لومړی قول څه و؟

ځ: ما پر تاسې والیان مقرر کړل، دا نه وایم چې هغوی له ستاسی نه ښه دي، مګر وایم چې دا له هغه چانه چې د دوی نه بد دي ښه دي.

س ۱۱۵: د مسلمانانو نه چا لومړی مدینې ته هجرت کړی؟

ځ: ابو سلمه د عبد الاسد مخزومي زوي لومړی مدینې ته هجرت کړی او مصعب د عمیر زوي هم یاد شوی چې لومړی هجرت یې کړی.

س ۱۱۶: د خالد رضی الله عنه د مسلمانیدو نه وروسته لومړۍ جګړه کومه وه چې هغه یې قوماندان و؟

ځ: د موته غزا لومړۍ غزا وه چې خالد رضي الله عنه د اسلام راوړو نه وروسته د هغې قومانده په غاړه لرله.

س ۱۱۷: د ابو بکر لومړی کار څه و؟

ځ: مسلمانانو ته یې د فتحې د کارونو چې پیغمبر علیه السلام شروع کړي وو د ادامې ور کولو امر وکړ.

س ۱۱۸: د سند لومړی فاتح څوک و؟

ځ: محمد بن قاسم ثقفي.

س ۱۱۹: قرآن د لومړي ځل لپاره چا دعربي نه سندي ته وژباړه؟

ځ: قاضي احمدد محمد منصور زوي ۳۷۵هـ د عراق نه و.

س ۱۲۰: لومړی تفسیر چې سندي ژبې ته ژباړل شوی کوم و؟

ځ: د احمد بن محمد منصوري تفسیر لومړی سندي ژبې ته ژباړل شوی.

س ۱۲۱: په مدینه منوره کې د پیغمبر علیه السلام د ځای په ځای کېدو نه وروسته د جنګي کارونو نه کوم یو کار لومړی وکړ؟

ځ: د قریشو د هغه قافلې چې د شام نه راروانه وه او تجارتی توکی په کې وې مخه یې و نیوله.

س ۱۲۲: په سند باندې د مسلمانانو لومړی حمله کله وه؟

ځ: ویل کیږي چې په سند باندې د مسلمانانو لومړی حمله په ۲۵هـ کال کې وه.

س ۱۲۳: د عمر بن عبد العزیز خلافت ته د رسیدو پر مهال د هغه لومړی وینا کومه وه؟

ځ: (قسم په الله چې ما دا کار نه په پټه غوښتی او نه په ښکاره). بیا ممبر ته پورته شو او ویې ویل: اې خلکو ما دا کار نه غوښتی او نه مې په کې رایه وه، او نه راسره مسلمانانو مشوره کړې، زه د دې کار په خاطر په امتحان کې ولویدم، ما ستاسو نه خپل بیعت بیرته پورته کړ، د ځان لپاره بل څوک و ټاکئ، بیا یې د ممبر نه په را کوزیدو شروع وکړه، خو خلکو ورته چغې شروع کړې او ویې ویل: مونږ غوره کړې یې، مونږ غوره کړې یې، بیا ورته د بیعت کولو لپاره را ټول شوو او بیعت یې ور سره وکړ.

س ۱۲۴: چا د لومړي ځل لپاره د ټولو هغو سببونو چې حکم پرې ثابتیږي تصنیف کړي؟

ځ: مُفَضّل د غوث زوي د سلیمان لمسي.

س ۱۲۵: کله چې د عین جالوت په جګړه کې ممالیکو مغلو ته ماته ورکړه او خپل حکومت یې قایم کړو نو له هغوی نه څوک لومړی د صلبیانو مقابلې لپاره میدان ته راووت؟

ځ: ظاهر بیبرس.

س ۱۲۶: د جغرافیا او فلکیاتو په علم کې د مسلمانو علماوو نه چا لومړی د ځمکې د ګردوالي او لمر نه د تاویدو خبره کړې وه؟

ځ: مسعودي، ۳۴۵هـ ۹۵۶م، دا د عبد الله بن مسعود صحابي د نسل نه دی، هغه په خپل کتاب (مروج الذهب) کې ویلي: کله چې لمر په لرې چین کې ډوب شي نو په اباد الجزایر کې را خیژي او چې په الجزایر کې ډوب شي نو په لرې چین کې را خیژي او دا د ځمکې نیمه دایره ده. همدا راز نورو مسلمانو علماوو هم د ځمکې د ګردوالي په هکله خبرې کړې دي، د هغوی د جملې نه محمد بن محمد ادریسي د ادریس حمودي لمسی (۵۴۸هـ ۱۱۵۳م) دی چې کله د صقلي ملک نورمان هلته دعوت کړو کوم ځایونه یې چې هلته ولیدل هغه ټول یې د سپینو زرو په یوه کره باندې رسم کړې وه، او په خپل کتاب (نزهة المشتاق فی اختراق الآفاق) کې ویلي: چې ځمکه لکه د یوې کرې یا ټوپ په شان ګرده ده.

(نور بیا)

## شهادت اوونيزه

خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه
ایمیل:
shahadatnews_kabul@yahoo.com

# افغانستان د نړيوالو رسنيو په هنداره کې

*د ملکي وګړو وژنه د افغانستان او لويديځ په اړيکو کې ستونزې راولاړې کړي*

**نيويارک ټايمز:**

نيويارک ټايمز ورځپاڼه په دې اړه په يوه مطلب کې ليکي چې د ناټو په عملياتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله يو هغه مهم علت دی چې د افغانستان او لويديځ اړيکو ته يې زيان اړولی او د وسله والو طالبانو هغه تبليغاتو ته نور قوت هم ورکوي چې وايي، د ناټو ځواکونه د افغانانو د ژوند خيال نه ساتي.

دا پېښه تېره اونی، د سې شنبې په ورځ د کونړ ولايت په پېچ دره کې هغه مهال وشوه چې دا ماشومان چې عمرونه يې دولس او له هغه کم وو، د لرګيو په راټولولو بوخت وو.

د ناټو چارواکو د دې پېښې مسووليت ومانه او له دې کبله يې بخښنه وغوښته خو په هغه خبرپاڼه کې چې د افغانستان د جمهوري رياست له خوا خپره شوه، ولسمشر حامد کرزي د ناټو او امريکايي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډيويډپېټرايوس ته ويلي چې بخښنه غوښتل کافي نه دي.

نيويارک ټايمز ليکي، حقيقت دادی چې وسله وال طالبان په خپله د ناټو د ځواکونو په پرتله ډېر زيات ملکي وګړي وژني. ورځپاڼه په دې اړه د ملګروملتونو د يو وروستي راپور يادونه کوي چې طالب وسله وال په هېواد کې له څلورو د دريو برخو ملکي وژنو مسوول بولي، خو د ورځپاڼې په وينا د ناټو له خوا د ملکي وګړو د وژنې په اړه خبرې ډېرې کېږي چې علت يې هم په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو ضد احساسات دي.

ورځپاڼه زياتوي، د ملکي وګړو د وژنو د پخوانيو پېښو برعکس چې وسله وال او ملکي وګړي دواړه به په کې وژل کېدل، دا خل وژل شوي ټول ملکيان وو چې مسووليت يې هم ناټو ډېر ژر ومانه او په داسې حالاتو کې ناټو معمولاً د قربانيانو کورنيو ته تاوان ورکوي.

**ګارډين:**

پرهمدې موضوع بريتانوی ورځپاڼې ګارډين هم يو مطلب خپور کړی چې سرليک يې دی، حامد کرزي د افغان ماشومانو د وژنې په برخه کې د امريکايي چارواکو بخښنه ونه منله.

ورځپاڼه د افغانستان د جمهوري رياست په خبرپاڼه کې د ولسمشر حامد کرزي څرګندونو ته اشاره کوي چې وايي، د خواشينې څرګندول او د دې پېښې غندنه د خلکو د ټپونو علاج نه شي کولای.

ګارډين ليکي چې د ملکي وګړو تلفات افغانان سخت په غوسه کوي، ورځپاڼه همدا راز د ملي امنيت د شورا په غونډه کې د ښاغلي کرزي هغه وينا يادوي چې د ناټو او امريکايي ځواکونو له عمومي قوماندان جنرال ډيويډپېټرايوس څخه يې غوښتنه وکړه، چې د دې ډول پېښو مخه بايد ونيول شي.

ګارډين په پای کې ليکي، د ناټو پوځي عملياتو د نړيوالو ځواکونو په وړاندې د افغان حکومت حساسيت راپارولی او افغان چارواکو په دې ترڅ کې نړيوال ائتلاف د هېواد په ختيځ کې د ګڼ شمېر ملکي وګړو په وژنه تورن کړي دي.

### راتلونکې کال به په امنيتي ...

کرزي وويل چې لا هم افغان ښځې له راز راز ستونزو لکه کورني تشدد او زورزياتي سره مخامخ دي. ده په دې برخه کې هم له نړيوالو د مرستې غوښتنه وکړه.

ښاغلي کرزي د هغو ناوړو دودونو د پای ته رسولو لپاره، چې له کبله يې افغان ښځې له راز راز کړاونو او د حقونو له ضايع کېدو سره مخامخ کېږي، د ديني او قومي مشرانو د رول او توجه غوښتنه وکړه.

### هدف اصلی سفر گیتس به ...

افغانستان به امریکا گفتند: در این سفر روي جدول زماني خروج نیروهاي امریکایي از افغانستان با مقامات آن کشور گفت وگو صورت گرفته است.

در مورد مسئله پایگاه‌هاي نظامي دائمي امریکا در افغانستان که پس از سفر رئیس جمهور افغانستان به "مونیخ " بر سر زبان‌ها افتاد، تلاش صورت مي گیرد که افکار عمومي افغانستان آهسته آهسته تغییر یابد و حساسیت‌ها در این مورد فروکش کند.

این کارشناسان نظامی افغان، اظهار داشتند، امریکا با تأسیس پایگاه نظامی در افغانستان تلاش می کند تا افغانستان را از نگاه نظامی برای همیشه متکی به خود کند.

سفر گیتس به افغانستان را از پیش برنامه ریزی شده خواندند و گفتند: این سفر تصادفي نیست و برای اجرای جدول زمانی خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، بررسی موضوع پایگاه‌های نظامی دائمی و بررسی پیمان استراتژیک میان دو کشورصورت گرفته است.

هدف دیگر این سفر بازدید وزیر دفاع امریکا از نیروهاي امریکایي مستقر در افغانستان است.

افزودند: وزیر دفاع امریکا در دیدار با رئیس جمهور افغانستان ممکن است مانند باراک اوباما و "دیوید پترائوس " فرمانده نظامیان امریکایي به منظور فروکش کردن حساسیت‌ها به عذر خواهي بسنده کند و یا به بازماندگان کشته شدگان خسارت مالي پیشنهاد کند.

کارشناسان نظامي افغان اظهار داشتند: اگر وزیر دفاع امریکا وعده پیشگیري از تلفات غیرنظامیان را به افغان‌ها دهد، این وعده غیرعملي است، زیرا در گذشته نیز وي بارها چنین تعهدي به مردم افغانستان داده بود اما نه تنها عملي نشده بلکه تلفات غیرنظامیان افزایش نیز یافته است.

وزیر دفاع امریکا در حالي وارد افغانستان شد که طی هفته جاري ۲ تظاهرات ضد امریکایي در واکنش به کشتار غیرنظامیان در این کشور برگزار شد.

قرار است گیتس با حامد کرزي، فرماندهان نظامي نیروهاي خارجي و مقامات بلند پایه افغان ملاقات کند.

"سیامک هروي " یکي از سخنگویان ریاست جمهوري افغانستان در تماس با رسانه‌ها گفته است که رئیس جمهور افغانستان با وزیر دفاع امریکا در مورد مذاکره با طالبان نیز گفت‌وگو خواهد کرد.

### دپاکستان بريدونو، په ...

دپاکستانيانو ددغو بريدونو پر وړاندې چو په خوله غوره، خو خلک به چوپه خوله پاتې نه اوله خپل هيواد څخه به دفاع وکړي. ديادونې ده چې دافغانستان او پاکستان حکومتونو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ويلي.

### کارشناسان امریکایی برای ...

رویدادها بر روابط ۲ کشور تاثیر منفي گذاشته است.

وي افزود: در مورد آغاز روند مسئولیت‌هاي امنیتي به نیروهاي افغان با رئیس جمهور افغانستان گفت‌وگو کرده و به نتایج مثبتي دست یافته اند اما از جزئیات این مذاکرات سخني به میان نیاورد.

وي گفت: نیروهاي امریکایي در تلاش هستند تا راه‌هاي نفوذي مخالفان افغانستان را مسدود کنند و در این راستا پیشرفت‌هاي زیادي صورت گرفته است.

# په پنجاب کې د آی اس آی دفتر ته څېرمه چاودنې درنه مرګ ژوبله اړولې

پاکستان، رسنی:

د پنجاب امنيتي مسوولين وايي د فيصل اباد ښار په چاودنه کې په لسګونو تنو ته مرګ ژوبله اوښتې.

دغه چاودنه د سې شنبې په ورځ شاوخوا پر يوولسو بجو په هغه سيمه کې رامنځته شوې چېرته چې د ای اس ای د سيمه ييز دفتر په ګډون د يو شمېر مهمو دولتي او نا دولتي موسسو نمايندګی موجوديت لري.

په سيمه کې د پوليسو يوه مشر رانا رياض رسنيو ته ويلي، چې چاودنه د تيلو او ګازو په هغه سټيشن کې رامنځته شوې چې د ای اس ای له سيمه ييز دفتره يواځې څو متره لرې واقع دی.

نوموړي ويلي که څه هم په دغه چاودنه کې د آی اس آی ددفتر ودانی سرسري زيانمنه شوې خو په وينا يې کارکوونکيو ته يې دسرزيان ندی رسېدلی.

پاکستاني رسنيو خبر ورکړی چې په دغه چاودنه کې شل تنه وژل شوي او تر سلو ډېر ټپيان دي خو رانا رياض دغه شمېره نه مني او وايي چې يواځې اته څلوېښتو تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ،نوموړي په دې اړه له رسنيو سره په خبرو کې وويل:

(چاودنه د ګازو په سټېن کې رامنځته شوې،زموږ د مالوماتو له مخې تر اوسه پورې ۱۳ تنه وژل شوي او ۳۵ نور ټپيان دي،خو په خواشينی سره به ووايم چې د يوشمېر ټپيانو روغتيايي حالت د اندېښنې وړ دی او امکان لري چې دمرګ ژوبلې اصلي شمېره نوره هم زياته شي.

سټيشن په بشپړه توګه له منځه تللی او ورسره شاوخوا ځينې ودانی هم زيانمنې شوې چې ځينې يې پکې څه ناڅه نړېدلې دي.)

رانا رياض د چاودنې د څرنګوالي په اړه ويلي چې تر اوسه دا نده ثابته شوې چې دا يوځانمرګی بريد و، موټر بم حمله او که د ګازو په سټيشن کې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي مواد،خو نوموړي دا يو تروريستي بريد بللی چې په وينا يې دبريد کوونکي اصلي هدف د آی اس آس او څېرمه څو نور دفترونه ول.

د استخباراتو پر دفتر دغه حمله په داسې حال کې شوې چې له دې وړاندې هم په پېښور او د پنجاب په ځينې برخو کې پر يادو ودانيو ورته بريدونه او چاودنې شوې.

سره له دې چې له تېرو څو کلونو راهيسې د پنجاب ايالت په مرکز لاهور کې دغه ډول پېښې زياتې شوي خو په فيصل اباد کې د خپل نوعيت دا لومړی چاودنه ده.

وي از شهر جلال آباد به عنوان یکي از این شهرها یاد کرد که در آن تدابیر شدید امنیتي از سوي نیروهاي امریکایي اتخاذ شده است.

شهر جلال آباد در شرق افغانستان و هم مرز با پاکستان است، این شهر در هفته هاي گذشته شاهد حوادث خونیني بود و فقط در حادثه حمله شبه نظامیان به یک بانک، تعداد زیادي از شهروندان جلال آباد قتل عام شدند.

گیتس افزود: تلاش مي شود که امسال تعداد نیروهاي امریکایي در افغانستان کاهش یابد و برخي از نیروها در مناطق دیگر این کشور مستقر شوند.

وي گفت: امریکا افغانستان را تنها نخواهد گذاشت و تعداد قابل ملاحظه اي از نیروهاي امریکایي پس از سال ۲۰۱۴در افغانستان حضور خواهد داشت.

وزیر دفاع امریکا از روابط دراز مدت و استراتژیک امریکا و افغانستان سخن گفت و افزود: مذاکراتي در این مورد جریان دارد و قرار است در هفته آینده گروهي از کارشناسان امریکایي به منظور گفت‌وگو با دولت افغانسان، وارد این کشور شوند.

این مقام امریکایي افزود: اگر مردم افغانستان بخواهند، امریکا براي همیشه در کنار آنان باقي خواهد ماند و نیروهاي امریکایي در قالب نیروهاي آموزشي و مربي ایفاي وظیفه خواهند کرد.

وي گفت: امریکا هیچ برنامه پنهاني در افغانستان ندارد و تلاش امریکا بر این است که افغانستان دیگر مکان امني براي تروریستان نباشد.

حامد کرزي در سخناني در این کنفرانس خبري گفت: ما خواهان کاهش تلفات غیرنظامیان نیستیم بلکه خواهان قطع و پایان یافتن تلفات غیرنظامیان هستیم.

### ګېټس وايي له افغانانو د ملکي ...

لپاره يو ناورين دی بلکې د افغانستان له خلکو سره زموږ د اړيکو لپاره هم يو ګوزار دی .د دوی امنيت زموږ تر ټولو لويه اندېښنه ده."

ولسمشر کرزي افغانستان ته د ښاغلي ګېټس تر سفر يوه ورځ مخکې په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو د عمومي قوماندان بخښنه رد کړې وه او ويلي يې وو، چې نور دوی ته بخښنې د منلو وړ نه دي.

ده دا هم ويلي وو چې د ملکي خلکو مرګ ژوبلې له واشنګټن سره د اړيکو د خرابېدو تيا اصلي عامل دی.

د امريکا ولسمشربارک اوباما هم د کونړ په پېښه ژوره خواشينې او د وژل شويو ماشومانو د کورنيو له غړيو سره يې خواخوږي څرګنده کړې وه.

ګومان کېږي چې ښاغلی ګېټس به نن د افغانستان جنوب او ختيځ ته هم لاړ شي.

د پينټاګون وياند جيف موريل، چې له ګېټس سره په سفر کې ملګری دی، خبريالانو ته ويلي، دفاع وزير رابرټ ګېټس غواړي چې د تېر کال له دسمبرمياشتې راوروسته د جګړې په ميدان کې د راغليو بدلونونو په باب لومړی لاس مالومات ترلاسه کړي او په خپله حالات له نژدې وګوري.

موريل دا هم وويل، ګېټس تمه لري چې قومندانان به ورته ووايي چې په جګړه کې يې مهم پرمختګونه کړي دي او په راتلونکو ورځو کې يې د طالبانو د حملو لپاره تياري نيولې ده.

ګېټس وروستيو پرمختګونو ته په اشارې وويل چې د هغو مانا به دا وی چې امريکايي پوځيان به وکولی شي چې سوکه سوکه له افغانستانه وتل پيل کړي.

"سره له دې چې د ايستل کېدونکو ځواکونو د شمېر په اړه لا پرېکړه نه ده شوې خو زما په نظر موږ به په ښه حالت کې يو چې د جولای په مياشت کې د امريکا او ايتلاف د ځينو پوځيانو کمول پيل کړو، که څه هم کېدای شي موږ به د افغانستان مختلفو سيمو ته نور ځواکونه ولېږو."

تاکل شوې ده چې روانه مارچ (د حمل په لومړۍ نېټه) ناټو په افغانستان کې افغان ځواکونو ته د خپل هيواد د امنيتي چارو د سپارلو پروګرام اعلان کړي.

ولسمشر کرزي هم ويلي وو چې دی به د نوي لمريز کال په لومړۍ ورځ له نړيوالو ځواکونو څخه د امنيتي چارو د ترلاسه کولو اعلان وکړي.

خو د ملکيانو مرګ ژوبلې د دواړو خواوو اړيکې اغېزمن کړي او وروستي پېښې د امنيتي مسووليتونو له سپارلو پام په بله اړولی دی.

کارپوهان وايي د ملکي تلفاتو پرسر د کرزي توند انتقادونه سبب کېږي چې له ولسي ملاتړه برخمن شي خو په اوږدې مودې کې به د دې کار اغېز لږ وي ځکه له امريکا سره د کرزي اړيکې تر دې مخکې هم چندان ښې نه وې.

د امريکا د امنيت پروژه په نوم د يوې غيرانتفاعي تحقيقاتي موسسې غړي جوشا فوسټ رويټرز خبري اژانس ته وويل، ويل کېږي چې په افغانستان کې د ايساف له لوري د ملکيانو پر مرګ ژوبلو د عام ولس غوسه مخ پر زياتېدو ده.

په تېرو درو اوونيو کې د افغانستان په ختيځ کې لږ ترلږه دې ته ورته څلور پېښې وشوې.

د ملګروملتو له مالوماتو سره سم د تېر کال په لسو مياشتو کې په افغانستان کې څه باندې شپږ زره ملکيان ووژل شول چې په څلور کې درې برخې يې د وسله والو طالبانو په ځانمرګو بريدونو او چاودنو کې وژل شوي وو.خو د نړيوالو ځواکونو له خوا د ملکيانو پر وژل کېدا خلک زيات پارېږي.

### په افغانستان کې دامريکا ...

رسېده، د کابل ښار د شاه دوشمبرې په سيمه کې را ټول شول او وروسته بيا د شعارونو په ورکولو د ښار يوې بلې څنډې ته وخوځېدل.

په اصل کې د دغو کسانو د لاريون پلمه په کونړ ولايت کې د ناټو د تېرې اوونی هغه بمباری وې، چې په کې د څو ماشومانو سربېره يو شمېر ولسي وګړي ووژل شول.

دوی په دې تړاو د يو شمېر هغو ولسي خلکو عسکونه هم له ځانه سره لېږدول چې په ادعا يې ناټو په کونړ ولايت کې وژلي دي.

په لاريون کې چې افغان پوليسو يې کلکه ساتنه کوله، پر نارينه وو سربېره يوشمېر ښځوهم ونډه درلوده.

دغه کسان داسې مهال په افغانستان کې د امريکايي پوځي دايمي اډو د جوړولو خلاف لاريون کوي، چې همدا تېره ورځ ( شنبه) افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړي استازي مارک ګروسمن په کابل کې خبريالانو ته وويل، په افغانستان کې د پوځي دايمي اډو د جوړولو په فکر کې نه دي .

تر دې وړاندې د جمعې په ورځ د افغانستان دوو پخوانيو امنيتي لوړ پوړو چارواکو حنيف اتمر او امرالله صالح بيا د امريکا د اوږدمهالو اډو جوړول په افغانستان کې د نويمو کلونو د جګړو او ناخوالو په څېر د دا ډول ممکنه پېښو په مخنيوي کې اړين وبلل.

دغه راز د ملکي تلفاتو په تړاو بيا په افغانستان کې د ناټو عمومي قومندان ډيويډ پېټرياس او دامريکا ولسمشر بارک اوباما هم بښنه وغوښته .

تېره سه شنبه ناټو ځواکونو د کونړ په "پېچ دره" کې د هوايي بمباريو پرمهال نهه تنه ماشومان ووژل، له دغې پېښې وروسته په جګړو کې د بې ګناه ملکي قربانيانو لپاره د کمپاين يوې امريکايي ټولنې، سيويک، د ناټو پر مشر غږ وکړ چې د وژل شوو ماشومانو کورنيو ته تاوان ورکړي .

تر دې وړاندې د کونړ په غازي اباد ولسوالی کې هم د رپوټونو له مخې د ناټو په بمباريو کې ۶۵ ولسي وګړي وژل شوي وو .